(c) ketabton.com: The Digital Library



تقريـظ :محمدقاسم( حليمي)

دهغو زندانيانو په ياد چه په تورو او تنګو خونو کې لاس او پښې تړلي دتندي او لوږي شپې پدي اميد تيروي چه که کله وربانديي دالله (ج) لخوا رحم وشي، او دخپل کور انګړ دمور او پلار غيږ ورباندي ډکه شي:

لـــــــه ډاره غږ کــــــــــــــــــــــــــولاي نشم

دسوال ياري ده اوس به ړنګه بنګه شينه

دښاغلي ورور ملا عبدالسلام ضعيف له غمه او درده ډك كتاب ماډير په دقت سره ولوست.

دزندان ترخي خاطري او يادونه ئي يوځل بيا را په ياد کړل. په پټري نيولو زخمونو ئي راته مالګي ودوړولي.

دا چه ښاغلي ضعيف څه ليدلي او څه ئي اوريدلي دي تر بګرام پوري زه ددي اعمالو شاهد يم. او ان ترديي ويلاي شم چه په ځيني مواردو کې بګرام له ګوانتانامو څخه سخت وو. خو زه دا هم زياتوم، چه هغه کسان دي دالله شکر وباسي چه دکابل استخباراتي زندانونه يي نه دي ليدلي. خو بيا هم دومره وايم چه انقلاب عکس يا سرچپه کيدلو ته وايي هر څه چه چپه شي نو مشکلات لري ځکه خو دانقلابونو له مخي انسانان هم سرچپه راځړول کيږي.

دضعيف صاحب په ټول کتاب کې ما ته دري نقطي ډيري مهمي اوجالبي دي:

-دا چه هر بندي به چې دشکنجو او عذابونو سره مخ شو نو دځان په حال به دومره نه وو خفه لکه چه دنورو ملګرو په حال او هميشه به يي ويل: چه په مونږ هر څه تيريږي الله (ج) دي زمونږ نور ملګري په حفظ او امان کې وساتي.

چه کله به ملګري خلاصيدل دنورو ملګرو حال به يي ليد، نو دخپل خلاصون په خوشحالئ به نه پوهيده. او دا احساس به ورسره وو چه کاش چه ټول خلاص شوي واي او يا زما په ځاي بل مظلوم خلاص شوي واي.

نو عجيبه غونډي احساس- عجيبه غونډي وروري � عجيبه قرباني څومره اخلاص- رښتينولي- الله (ج) دي يې له هر يوه څخه قبول او منظور کړي.

-3تر ټولو بختور خو ضعيف صاحب وچه دافغانستان نمائنده يي په ګوانتانامو کې وليدلای شو او بالاخره ورسره راغي.

او داسي نمائنده چه داسلام � ديانت- افغانيت- او شفقت نښې له ورايه وباندي ښکاري.

داهغه څوك دي چه زه يې پيژنم که ددي نمائنده، په واك او اختيارکي واي، نو هيڅ افغان ته به په هيڅ ځاي کې هيڅ نوع تکليف نه وو رسيدلي داسلامي ورورولي، او افغاني وحدت سمبولA-B :

په ښاغلي ضعيف صاحب ډيري سختي او ناخوالي تيري شوي. دنورو ورونو په شمول دي الله (ج) اجر ورکړي.

Download from: ketabton.com

